# په دیني طَلَبه باندے

# مال خرچ کول

**04-November-2021**

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)





# په دیني طَلَبه باندے مال خرچ کول

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ — وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ — وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چه کله جُمات ته داخل شئ، چه یاد مو وي نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو چه جُمات کښے ئے نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. یاد ساتئ! جُمات کښے د خوراك څښاك، اُوده کیدو یا پیشمني او روژه ماتي کولو، تر دے چه د آبِ زَم زَم یا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِیَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِکاف نِیَّت هُم صرف خوراك څښاك یا اُوده کیدو د پاره کول نه دي پکار بلکه چه مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. ''**فتاویٰ شامی**'' کښے دي: که څوك جُمات کښے خوراك څښاك یا اُوده کیدل غواړي نو د اِعتِکاف نِیَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ ذِکْرُ الله اوکړي بیا چه څه غواړي کوي دِ (یعني بیا که غواړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کیدے شي)

## د دُرُود شریف فضیلت

د حضرتِ سَیِّدُنا **حَفْص** بِن عبدُالله رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه بیان دے چه ما اِمامُ المَحَدِّثِین حضرتِ

سَیِّدُنا ابُو زُرعه رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ د هغوئي د وفات نه پس په خوب کښے اولیدلو چې هغوئي په وړومبي آسمان باندے فرښتو ته د لـمانځه جَمعه ورکوي. ما ترینه تپوس اوکړو: اے اَبُو زُرعه! تاسو ته دا اِعزاز و اِکرام څنګه نصیب شوے دے؟ هغوئي اِرشاد اُوفرمائیلو: ما په خپل لاس لس لکه حدیثونه لیکلي دي او ما به په هر حدیث کښے دُرُود شریف لوستلو او د نبئ رحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے چه کوم مسلمان په ما باندے یو ځل دُرُود شریف لیږي نو **اللّٰه** پاك په هغه لس رحمتونه نازلوي.

(شرح الصدور، باب فی نبذ من اخبار من رأی الموتی...الخ، ص ۲۹۴)

سر سے پا تک کروڑ بار سلام
اور سراپا پہ بے شمار درود
دل میں جلوے بسے ہوئے تیرے
لب سے جاری ہو بار بار درود
قَبْر میں خُوب کام آتی ہے
بیکسوں کی ہے یارِ غار دُرُود

(ذوقِ نعت، ص، ۱۲۴-۱۲۵)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدو نه مخکښے ښه ښه نِیَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: "**نِیَّةُ الْمُؤْمِنِ خَیْرٌ مِّنْ عَمَلِه**" د مُسلمان نِیَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

---

[1] ....معجمِ کبیر سهل بن سعد الساعدی...الخ، ۱۸۵/۶، حدیث ۵۹۴۲

**مَدَني ګل**: نيك او جائز كار كښے چه څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

## د بيان اوريدلو نيتونه

☆ ښو ښو نِيَّتونو سره د شروع نه تر آخرے پورے بيان واورئ ☆ پوره تَوجُّه سره د بيان اوريدلو نِيَّت اوكړئ ☆ كه قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هُم اوكړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محُترمو اسلامي ورونړو!** نن زمونږ د اجتماع د بيان موضوع ده "**په ديني طَلَبه باندے مال خرچ كول**". په دے بيان كښے به مونږه د صحابۀ كرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان او نورو بُزرګانو داسے واقعات اورو چه هغوئي د دِينِ اسلام د سربُلندئ د پاره د خپل وخت وركولو سره سره خپل مال هُم خرچ كړے وو. د نن صبا دَور كښے مونږه د دِيني طَلَبه څنګه خدمت كولے شو؟ په دے باره كښے به هُم څه مَدَني ګُلونه اورو. ټول بيان پوره تَوجُّه سره د اوريدلو نِيَّت اوكړئ.

## د عِلمِ دِين په طلبګارو باندے ئے مال خرچ كړو

حُضُور نبيِّ كريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو سفر نه واپسئ كښے د خاتُونِ جَنَّت حضرتِ سَيِّدَتُنا فاطمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهَا كره تشريف يوړلو خو د كور په دروازه باندے ئے يوه پرده اوليدله او د خپلے ګرانے لُور په لاسو كښے ئے د سپينو زرو دوه كړے اوليدلے نو

بیرته ئے تشریف یوړلو. حضرت ابو رافِع رضی اللہ عنہ د خاتُونِ جَنَّت رضی اللہ عنہا په خدمت کښے حاضر شولو نو هغے رضی اللہ عنہا ژړل، هغے چه د حُضُور نَبِیّ کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم د بیرته تللو خبر ورکړو نو حضرت ابو رافِع رضی اللہ عنہ په دربارِ رسالت کښے حاضر شو او د بیرته تللو د سبب تپوس ئے ترینه اوکړلو، خوږ نبي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم اِرشاد اوفرمائیلو: په دروازه باندے د موجودے پردے او د سپینو زرو د کړو [یعني بنګړو] په سبب زه بیرته راغلم. (ابو داود، کتاب الترجل، باب ما جاء فی الانتفاع بالعاج، ۴/۱۱۸، حدیث: ۴۲۱۳، بتغیر)

حضرت ابو رافِع رضی اللہ عنہ چه خاتُونِ جَنَّت رضی اللہ عنہا ته دا خبر ورکړو نو هغے هغه پرده اوشلوله او کړے [یعني هغه بنګړي] ئے د حضرت بلال رضی اللہ عنہ په لاس دربارِ رِسالت ته اولیږل او عرض ئے اوکړو: زه دا کړے صَدَقه کووم، تاسو صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ئے چه کوم ځائے مناسِب ګڼړئ هلته ئے اولګوئ. په غریبانو باندے مهربانه نبي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم حضرت بلال رضی اللہ عنہ ته اِرشاد اُوفرمائیلو: دا خرڅے کړه او په اَهلِ صُفَّه باندے ئے اولګوه، چنانچه هغوئي هغه دواړه کړے په دوه نیم دِرهَمه خرڅے کړلے او په اَصحابِ صُفَّه باندے ئے صَدَقه کړے. د هغے نه پس خوږ مُصطَفیٰ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم خپلے ګرانے لُور کره تشریف راوړلو او اِرشاد ئے اُوفرمائیلو: په تا زما مور و پلار قُربان، تا ډیر ښه اوکړل. (سنن النسائی، کتاب الزینة، باب الکراھیة للنساء فی اظھار الحلی والذھب، ص۸۲۰، حدیث:۵۱۵۰، بتغیر)

مُفَسِّرِ قرآن، حضرت مُفتي اَحمد یار خان نعیمي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: حُضُور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم به چه کله په سفر تشریف وړلو نو مخکښے به ئے د کور ټولو کسانو نه رخصت اخستلو او آخره کښے به ئے د حضرتِ فاطِمه زَهرا رضی اللہ عنہا نه رخصت اخستلو او چه کله به ئے د

سفر نه بیرته تشریف راوړلو نو د ټولو نه مخکښے به ئے د حضرت فاطِمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا کور ته تشریف راوړلو بیا د نورو اهلِ بیتو خوا ته. غرض دا چه روانیدلو به هُم د هم دے کور نه او بیرته راتللو به هُم دے کور ته، د دغه کور به عَظمت دِ بیشمیره سلامونه وي. [مُفتي صاحب] په دروازه باندے د زوَړندے پردے او [د لاس د] کړو په باره کښے فرمائي چه: د دروازے هغه پرده غالِباً تصویرونو والا وه او د سپینو زرو کړے د هلکانو (یعني اِمام حسن او اِمام حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا) د پاره وے، د نارینه د پاره کړے [بنګړي] حرام دي او تصویرونه والا پرده هُم حرامه ده. حضرتِ فاطِمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا ته د دے دواړو د حُرمت په باره کښے د دغه وخته پورے عِلم نه وو ځکه هغے رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا دا دواړه کارونه کړي وو ګني اهلِ بَیتِ نُبُوَّت قَصداً [یعني اِرادَتاً] ناجائزه کار نه شي کولے. هغے رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا چه صرف د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خفګان اولیدلو نو دا دواړه څیزونه ئے ختم کړل او هغه کړے ئے د صَدَقه کولو د پاره د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دربار ته اولیږلے، چه حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما دا عمل اُووِیني او زما کور ته تشریف راوړي. حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا غوښتله چه حضرتِ فاطِمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا هُم دا کَړے نه په لاس کوي اګر چه د هغے د پاره هغه په لاس کول جائز وو خو زه غواړم چه زما اهلِ بیت جائز سِینګار هُم نه کوي چه د هغوئي زړونه په دُنیا کښے مشغُول نه شي او په آخرت کښے د هغوئی دَرَجات نور اوچت شي او هغوئي په دُنیا کښے د فَقر او ریاضَت ژوند تیر کړي. (مِراٰۃُ الْمَنَاجِیح ج ۷ ص ۱۷۷ بتغیر)

## د مور و پلار د پاره نصیحت

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** په دے حدیثِ پاك کښے د مور و پلار د پاره نصیحت

دے چه هغوئي د خپل اولاد او خاص طور د لونړو د دین مطابق تربِیَّت اوکړي. چه هغوئي د واده نه مخکښے او د واده نه پس هُم نیك سیرته ښځے جوړے شي او د خپلو بچو هُم د دین مطابق تربِیَّت اوکړي، ځکه چه د نیکے ښځے په ذریعه د یو ښے او نیکے کورنئ بُنیاد ایښودے شي. او ټول عُمر د مور و پلار د زړه خیال ساتي، څنګه چه حضرتِ سَیِّدَتُنا فاطِمه زَهرا رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یوه سعادت منده لُور وه. د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د سعادت مندئ په وجه په مونږه هم کرم اوشو چې خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خاتُونِ جَنَّت رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا ته یو تسبیح عطا کړه چې هغې ته **تسبیح فاطمه** وائي. چنانچه

## تسبیحِ فاطمه

د اسلام څلورم خلیفه **اَمِیۡرُ الۡمُؤۡمِنِیۡن**، حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي چې د نبـي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې څه قیدیان راویستے شو نو ما فاطِمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا ته اووئیل چې تاسو د خپل والدِ محترم جناب خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضره شئ او یو غلام ترې اوغواړئ چې هغه په کار کولو کښې ستاسو مدد اوکړي. چنانچه هغوئي د ماښام په وخت د حُضُورِ اَکرَم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضره شوه، خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ترې تپوس اوکړو: ''لورې څه خبره ده؟ '' هغوئي صرف دومره عرض اوکړو چې د سلام د پاره حاضره شوم. د حیا په وجه ئې نور څه اونه وئیل، چې کور ته بیرته راغله نو حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ترې تپوس اوکړو: څه اوشو؟ اوئې وئیل: ما د حیا په وجه حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته څه نه شو وئیلے. په دویمه شپه بیا حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فاطِمةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د کور کار کولو د پاره

يو غلام غوښتلو له را اوليږله، خو هغوئي بيا د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د حيا په وجه سوال اونکړو. (حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰى رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې) کله دريمه شپه راغله نو مونږ دواړه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو، خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو د سبب تپوس اوکړو، حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰى رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما عرض اوکړو: يَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مونږ ته په کار کولو کښې تکليف دے نو مونږه اوغوښتل چې تاسو نه يو غلام اوغواړو. حُضُورِ اَکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: آيا زه تاسو ته داسې کار اونه ښائم کوم چې ستاسو د پاره د سرو اوښانو نه بهتر دے؟ حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰى رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عرض اوکړو: آو جناب! يَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! [ضرور ئې اوښائې] خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: سحر ماښام 33 ځله **سُبْحَانَ الله**، 33 ځله **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** او 34 ځله **اَللّٰهُ اَکْبَر** وايه، سحر ماښام به درته په زرګونو نيکۍ ميلاويږي. حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰى رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د دې نه پس ما د خپل معمول جوړ کړو، بيا مې کله هم نه دې پريښودے، آو د جنګِ صَفِّين په شپه رانه دا [تسبيحات] لوستل هير شوي وو، خو بيا په آخر کښې را ياد شو نو اومې لوستل. (سنن کبرى للنسائى، کتاب عمل اليوم والليلة، باب ثواب ذلک، ۶/۲۰۴، حديث: ۱۰۶۵۲)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه واوريدل چه زمونږه خوږ نبي مکِّـی مَدَنـی مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خاتُونِ جَنَّت رَضِیَ اللهُ عَنْهَا هغه صَدَقه کړي د هغے له طرفه په اصحابِ صُفَّه باندے خرچ کړے. د **الله** پاك خوږ رَسُول، رَسُولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل دے مبارك عمل په ذريعه مونږ ته دا درس راکړو چه په ديني طَلَبه باندے خپل مال خرچ کول پکار دي. که خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غوښتلے نو دا مال ئے په يو بل نيك کار

کښے د خرچ کولو حُکم هُم ورکولے شو خو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اَصحابِ صُفَّه باندے د خرچ کول حُکم ورکړو او اصحابِ صُفَّه دِيني طَلَبه وو، يعني هر وخت به د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه عِلمِ دِين حاصلولو د پاره موجود اوسيدل. د دے نه معلومه شوه چه مونږ ته خپل مال په هغه کارونو کښے خرچ کول پکار دي د کومو نه چه **دين ته زياته فائده رسيدے شي**. مونږ ته پکار دي چه خپل مال د دِين په کارونو کښے خرچ کولو سره سره چه څومره زيات نه زيات کيدے شي خپل وخت هُم د دِين په کارونو کښے صَرف کړو، د فيضانِ مُصطَفىٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه مالامال شوو صحابۂ کرامو او د نورو بزرګانو داسے په سوونو واقعات شته چه د هغوئي مال د ديني کارونو د پاره وقف کيدو سره سره به د هغوئي وخت هُم د دين د سربُلندئ د پاره تيريدلو. **الله** دِ اوکړی چه د هغه عظيمو هستيانو د قربانو په خاطر مونږ ته هُم خپل مال او وخت د دين په کارونو کښے د لګولو او د عِلمِ دين حاصلولو او نورو ته د دين ښودلو جذبه رانصيب کړي.

## د اسلام په ابتدائي دَور کښے د صحابه قربانئ

**اے عاشقانِ رَسُول!** په دے کښے هيڅ شك نشته چه د اسلام ابتدائي دَور ډير زيات مشکل دَور وو. صحابۂ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د دِين زده کولو په لاره کښے د داسے داسے پريشانو او مشکلاتو سره مخامخ شوي وو چه د هغے صرف تَصَوُّر کولو سره هم زړه درَزيږي. لَوږه، تنده، بے وسي، مسافري، د خپلوانو بے وفائي، د غيرو دُښمني، د کور نه لرے ژوند تيرول، غرض دا چه! ډير زيات مشکلات وو، خو صحابۂ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د هر ازميښت مضبوطه مقابله اوکړه او د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په غُلامئ باندے به مضبوط ولاړ اوسيدل او د

دِين په خدمت او د دين په تبليغ كښے به مصروفه اوسيدل.

## اَصحابِ صُفَّه څوك دي؟

هغه صحابهٔ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان كوم به چه د حُضُور عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په خدمت كښے صرف دين زده كولو د پاره حاضر اوسيدل هغوئي ته اَصحابِ صُفَّه وائي. د هغوئي شان خو بے مِثل و بے مثال دے.

اَصحابِ صُفَّه څوك دي؟ په دے باره كښے هُم واورئ: په مسجِدِ نَبَـوِي شريف كښے يو چوتره وه، هلته به (مختلفو وختونو كښے) 400 يا 500 فُقَرائے مُهاجِرِين كښيناستل، هغوئي ته اَصحابِ صُفَّه وائي. هغوئي نه كورونه لرل نه ورسره ساز و سامان وو او نه ئے څه كاروبار وو، د غريبئ حال ئے دا وو چه په هغوئي كښے اَوياو كسانو سره د سَتر پټولو د پاره پوره كپړه هُم نه وه. د هغوئي په شمير كښے به كَمے زياتے راتللو، مدينے مُنَوَّرے ته به چه څوك [نوے كس] راغلو او په ښار كښے به ئے هيڅ څوك پيژندګلو والا نه وو نو هغه به هُم په اهلِ صُفَّه كښے شامل شو. (تفسیر نعیمی،۳/۱۳۲ مفہوما)

## د اَصحابِ صُفَّه لوَږے

دا د صحابهٔ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان هغه مُقَدَّسه ډله ده چه دوئی خپل كورونه، مال حال، بال بچي هر څه پريښودي وو او هر وخت به په مسجِدِ نَبَـوِي كښے صرف د عِلمِ دِين حاصلولو د پاره موجود اوسيدل، دوئي به لوږه، تنده برداشت كوله، مختلف تكليفونه به ئے تيرول خو دين زده كولو كښے به مشغول اوسيدل.

راځئ چه د اَصحابِ صُفَّه د قربانو او لوږے مُتَعَلِّق څه وارو: چنانچه

(1) **حضرتِ** سَیِّدُنا فَضالَه بن عُبَید رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي، **حُضُورِ اکرم** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به چه کله خلقو ته د لمانځه اِمامَت فرمائیلو نو څه صحابهٔ کِرام عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان به په لمانځه کښے د قیام په حالت کښے د سختے لوَږے په وجه راغورزیدل، او دا به اَصحابِ صُفَّه وو. تر دے پورے چه اَعرابیانو [یعني د عربو د کلو اوسیدونکو خلقو] به وئیل، دا خلق دیوانه دي. چه کله به سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د لمونځ نه فارغ شو نو د هغوئي طرف ته به ئے توَجُّه اوکړه او فرمائیل به ئے، که تاسو ته معلومه شي چه ستاسو د پاره د **الله** تعالیٰ په در کښے څومره اجر دے نو تاسو به دا خبره خوښه کړئ چه ستاسو په لوَږه او حاجت مندئ کښے نوره اِضافه هم اوشي. (جامع ترمذی ج٤ ص١٦٢ حدیث ٢٣٧٥)

(2) **حضرتِ** سَیِّدُنا ابوهُریره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: "ما (د لوَږے په وجه) خپل دا حالَت هم لیدلے وو چه د تاجدارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مِنبَرِ مُنَوَّر او د **اُمُّ الْمُؤمِنِین** حضرتِ سَیِّدَتُنا عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د کور مبارك د مینځه به بے هوشه شوم او را پرے به وتم. څوك سړے به راغے او زما په څټ به ئے ښپه کیښودله. هغه به دا ګنړله چه په ما باندے د جُنون [یعني د لیونتوب] حالت راغلے دے حالانکه ما ته به جُنون [یعنی لیونتوب] وغیره هیڅ نه وو بلکه دا حالت به مے د لوَږے په وجه کیدو." (بُخاری ج٨ ص١٩٣ حدیث ٧٣٢٤)

## اَصحابِ صُفَّه سره د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مَحبَّت

اَصحابِ صُفَّه سره به نبیِّ کریم رَءُوۡفٌ رَّحِیۡم ډیر مَحبَّت کولو. زمونږه خوږ مکّی مَدَنی آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم له به چه څه تُحفه، صَدَقه یا مالِ غنیمت راغلو نو هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه په اَصحابِ صُفَّه خرچ کولو. په حدیثونو کښے راغلي دي چه خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به نورو صحابهٔ کرامو ته ترغیب ورکولو چه هغوئي دِ په اَصحابِ

صُفَّه باندے روتېږ اوخوري او په هغوئي دِ مال خرچ کوي. په هغوئي کښے د بعضو د خرچ کفيل ېخپله خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وو. (مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيح ج ۷ ص ۳۵)

چنانچه هغه اويا (70) صحابهٔ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان چه هغوئي بهترين قاريان هُم وو، هغوئي به د ورځے لرګي راجمع کول، هغه به ئے خرڅ کړل او د هغے نه حاصل شوي رقم باندے به ئے اَصحابِ صُفَّه (چه د دين حاصلولو طَلَبه وو، د هغوئي) د پاره خوارك تيارولو او په هغوئي به ئے خوړلو او شپه به ئے په عبادت کښے تيروله. (مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيح ج2 ص284)

## د اصحابِ صُفَّه علمِ دِين زده کول

**اے عاشِقانِ رسول!** د الله پاك آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به اصحابِ صُفَّه د خپل ځان سره په طعام خوړلو کښې د شريك کولو کوشش فرمائيلو. د دې حُسنِ سُلوك بنيادي وجه دا وه چې اصحابِ صُفَّه به عِلمِ دين زده کولو، هغوئي به په مسجدِ نَبَوي کښې اوسيدل او د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه به ئې علم حاصلولو، په ډيرو روايتونو کښې د هغوئي علم زده او نورو ته ورزده کولو ذِکر ميلاويږي.

## د آقا په دِيني طلبه باندې خرچ کول

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اصحابِ صُفَّه به علمِ دين زده کولو ځکه به خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ېخپله هم په هغوئي خرچ کولو او نورو ته به ئې هم د دې ترغيب ورکولو، داسې نه وو چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به صرف په اصحابِ صُفَّه خرچ کولو،

د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مال خو د دين د پاره **وقف** وو. څومره مال به چې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې پيش کيدلو هغه به د الله پاك په لاره کښې خرچ کولو.

حضرت سَيِّدُنا ابُوذر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يوه ورځ زه د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ووم، چې کله خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُحُد غر اوليدلو نو اوئې فرمائيل: که دا غر زما د پاره د سرو زرو جوړ شي نو زه دا نه خوښووم چې د دې نه يو دينار هم د ځان د پاره د دريو ورځو نه زيات اوساتم، سِوا د هغه دينارونو نه کوم چې زه د قرض ادا کولو پاتي کړم. (بخاری، کتاب فی الاستقراض... الخ، باب اداء الدیون، ۲/۱۰۵، حدیث:۲۳۸۸)

په ديرشمه سيپاره، سورۂ ضُحٰـى آيت نمبر 10 کښې الله پاك ارشاد فرمائي:

وَ اَمَّا السَّآىٕلَ فَلَا تَنْهَرْ ۝۱۰ (پ۳۰، الضحی:۱۰) مفهوم ترجمه کنزالايمان: او غوښتونکے مه رټه

يعنې اے حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! چې کله ستاسو په خدمت کښې يو سوالګر څه اوغواړي نو هغه هيڅ کله مه رټه، بلکه هغه ته څه ورکړه يا په حُسنِ اخلاق او نرمۍ سره د هغه مخے ته د نه ورکولو عُذر بيان کړه.

(خازن، الضحی، تحت الآیۃ: ۱۰، ۴ / ۳۸۸، مدارک، الضحی، تحت الآیۃ: ۱۰، ص۱۳۵۷، ملتقطاً)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** غور اوکړئ چې زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سَيِّدُ الانبياء دے، اِمامُ الانبياء دے، د دې جهان د تخليق سبب دے، خو د دې باوُجود د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك انداز دا وو چې د خپل ځان سره به ئې دُنيا نه ساتله، پخپله به اوږے اوسيدلو او په نورو به خوراك کول د هغوئي طريقه وه، خپل مال به وو يا به ورته چا په تُحفه کښې ورکړو، بلکه که دا اووئيل شي چې د نبـي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ

وَسَلَّم تهول مال د دِین د پاره وقف وو نو دا به غلط نه وي ځکه چې انبيائے کرام عَلَيۡهِمُ السَّلام یو کس هم د درهم و دینار وارث نه دے جوړ کړے څنګه چې

**مُفسّرِ قرآن،** مفتی احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د یو حدیثِ پاك په شرح کښې لیکي چې بعض انبيائے کرام عَلَيۡهِمُ السَّلام تارِكُ الدُّنیا وو، [یعنې هغوئي به د دُنیا نه ډېره کوله] هغوئي څه جمع کړي نه وو لکه حضرت یحیٰـی و عیسٰی عَلَيۡهِمَا السَّلام او بعضو ډیر مال ساتلے وو لکه حضرت سُلیمان او داؤد عَلَيۡهِمَا السَّلام خو د یو نبـي مالي میراث نه دے تقسیم شوے، د هغوئي پریښودے شوے مال به د دِین د پاره وقف وو. (مرآة المناجیح،۱/۱۹۹)

**سُبۡحٰنَ الـلّٰـه! اے عاشِقانِ رسول!** تاسو واوریدل چې نبـي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مال به د دِین د پاره وقف وو، خاص طور په دیني طالبِ علمانو باندې خرچ کول خو د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارك وو او او خپلې لور حضرت فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا د پاره به ئې هم دا خوښولو چې هغوئي هم خپل مال د الله پاك په لاره کښې خرچ کړي.

## 12 دیني کارونو کښے یو دیني کار "مَدَني مُذاکَره"

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سیرت باندې عمل کولو سره مونږه له هم پکار دي چې خپل مال په دیني طلبه باندې خرچ کړو او د مال سره سره خپل وخت هم د دِین په کارونو کښې خرچ کړو، د دې بهترینه طریقه دا ده چې د ذیلي حلقے دولس دیني کارونو کښے حِصَّه واخلو، په دې کارونو کښې یو **دیني کار "هفته واره مَدَني مُذاکَره"** هُم ده. د دے دیني کار بیشمیره دِیني او دُنیاوي فائدے هُم

دي، ☆ د **مَدَني مُذاکرے** په بَرَکت ګناهونو نه د بچ کيدلو ذِهن جوړيږي ☆ د **مَدَني مُذاکرے** په بَرَکت عِلمِ دِين حاصليږي ☆ د **مَدَني مُذاکرے** په بَرَکت ديني معلوماتو سره سره اخلاقي تربِيَّت هُم نصيب کيږي. **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** ډيرو اسلامي ورونړو د **مَدَني مُذاکرے** په بَرَکت د ګناهونو نه توبه کړي ده. راځئ چه نِيَّت اوکړو چه مونږه به هم هره هفته "**مَدَني مُذاکره**" ضرور د کتلو کوشش کوو او نورو اِسلامي ورونړو ته به هُم د **مَدَني مُذاکرے** کتلو دعوت ورکوو، اِنْ شَآءَاللّٰه. ......

ټول **عاشِقانِ رَسُول** پخپله هُم د دے مَدَني مُذاکَرو د کتلو او اوريدلو نِيَّت اوکړئ او نورو ته هُم د دے ترغيب ورکړئ.

# د مَدَني مُذاکرے بَرَکت

د واه کينټ (پنجاب پاکستان) يو اسلامي ورور د معاشرے د نورو ځلمو په شان په مختلفو اخلاقي خرابو کښے اخته وو، مَثَلًا فلمونه او ډرامے کتل، لوبو ټوقو کښے خپل وخت بربادول، او موبائل فون او انټرنيټ کښے وخت خرابول د هغه ډير خوښ وو. يوه ورځ هغه ته په مَدَني چينل باندے د مَدَني مُذاکرے د کتلو سعادت نصيب شو. **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** د مَدَني مُذاکرے په کتلو او اوريدلو هغه ته ډير سکون نصيب شو او هغه د خپل تير ژوند د ټولو ګناهونو نه توبه اوکړه او په فرائضو، واجباتو او سُنَّتو باندے ئے د عمل کولو کوشش شروع کړو، يو مُوټے ګيره ئے پريښودله، د **الله** پاك نور کرم پرے دا اوشو چه مور او پلار ئے په ډيره خوشحالئ د دعوتِ اسلامي د مَدَني کارونو د پاره "**وَقفِ مدينه**" کړو.

مَدَنی چینل سُنّتوں کی لائیگا گھر گھر بہار مَدَنی چینل سے ہمیں کیوں والِہانہ ہو نہ پیار
مَدَنی چینل کی مُہِم ہے نفس و شیطاں کے خلاف جو بھی دیکھے گا کریگا اِن شاءَاللہ اِعتِراف

مَدَني چينل به جاري کړي کور په کور درسِ سُنّت
نو ولے به مونږ نه کوو د دے سره محبّت
د مَدَني چينل مُهِم دے د نفس او د شيطان خِلاف
څوك ئے چه هم ګوري نو کوي به اِنْ شَآءَ الله اِعتِراف

## د حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د دين د پاره خرچ کول

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه واوريدل چه زمونږه خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به خپل مال په اَصحابِ صُفَّه باندے او د دين په نورو کارونو کښے خرچ کولو. دغسے به صحابهٔ کرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان هُم خپل مال د دِين په کارونو کښے قربانولو د پاره هر وخت تيار اوسيدل. په دے باره کښے د اسلام اوَّل خليفه اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مثال زمونږ مخے ته دے.

د حضرت صديقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہ په باره کښے راځي چې هغوئي تاجر وو، د کپړے د غټ کاروبار مالِك وو، په کومه ورځ ئے چې اِيمان راوړو نو هغه وخت هغوئي سره څلويښت زره دِرهمه يا ديناره وو، د اسلام راوړو نه پس ئے هغه ټول د الله په لاره کښے خرچ کړلو. (تاريخ مدينة دمشق، ج۳۰، ص۶۶)

په يو روايت کښے راځي چې صديقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہ هغه هستي ده چا چې د اسلام قبلولو نه واخله مدينے منورے طرف ته د هجرت کولو پورے مسلسل خپل مال په اسلام قربانولو. د هجرت په وخت کښے هغوئي سره پينځه يا شپږ زره درهمه وو هغه ئے ځان سره واخستل. (او د دِين د پاره ئے قربان کړل.) (السيرة النبوية لابن هشام، هجرة

الرسول، ابوقحافة و اسماء بعد هجرة ابی بکر، ۱/۴۴۱)

د غزوۀ تبُوك په موقع د خپل كور ټول سامان د الله په لاره كښے د وركولو واقعه هم د هغوئي ده. د حضرت سَيِّدُنا صديقِ اكبر رَضِیَ اللہُ عَنْہ د معمولاتو نه داسے معلوميږي چې په كوم ځائے كښے به د دين د پاره د خرچ كولو ضرورت پيښيدلو او هغوئي سره به مال وو نو هغوئي به هلته مال خرچ كولو. د اسلام د مدد او نُصرت د پاره به هغوئي په فراخه زړه خپل ذاتي مال و اسباب خرچ كول. په روايتونو كښے راځي چې حضرتِ سَيِّدُنا ابوبكر صديقِ رَضِیَ اللہُ عَنْہ هغه هستي ده چې د هغوئي مال به د الله پاك خوږ رَسُول صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل مال په شان خرچ كولو.

(المصنف لعبد الرزاق، کتاب الجامع، باب اصحاب النبی، ۱۰/۲۲۲ الحدیث: ۲۰۸۴۸)

منقول دي چې كله حضرت بلال حبشي رَضِیَ اللہُ عَنْہ اسلام قبول كړو نو د هغې نه پس به هغوئي ته ډير تكليفونه وركړے كيدل، حضرتِ سَيِّدُنا صديقِ اكبر رَضِیَ اللہُ عَنْہ حضرت بلال حبشي رَضِیَ اللہُ عَنْہ په پينځه اوقيه (تقريباً 32 تولے) سرو زرو واخستلو نو خرڅوونكي اووئيل: اَبُوبكر! كه تاسو صرف په يوه اوقيه سرو زرو باندې ولاړ وے نو مونږه په دومره قيمت هم دا خرڅولو. هغوئي اوفرمائيل: كه تاسو سل اوقيه (تقريبا 640 تولے) سره زر غوښتلے نو ما به هغه هم ادا كول او بلال به مې ضرور اخستلو.

(الرياض النضرة، ج۱ص۱۳۳)

حضرتِ سَيِّدُنا صديقِ اكبر رَضِیَ اللہُ عَنْہ د خپل مال په ذريعه د مصطفٰی كريم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم داسے خدمت كړے دے چې آقا كريم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله ارشاد فرمائيلي دي

چې: ما ته د بل چا مال دومره فائده نه ده راکړي څومره چې د ابوبکر صِدّیق رَضِیَ اللهُ عَنْه مال راکړي ده. (سنن ابن ماجة، کتاب السنة، باب فی فضائل اصحاب رسول الله، ۷۲/۱، الحدیث: ۹۴)

## د حضرتِ سَیِّدُنا عُثمانِ غَني د دین د پاره مال لګول

هُم دغسے د اسلام دریم خلیفه اَمیرُ الْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا عُثمانِ غَني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د دین د پاره مال خرچ کول هُم ډیر مشهور دي. ډیر ځله هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د دین د پاره مال خرچ کولو باندے د حُضُور نَبِيِّ کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د جَنَّت خوشخبرئ اوریدلي دي. په مدینۀ مُنَوَّره کښے ئے د مهاجرینو د ضرورت په وجه کوهے واخستلو او د دِین د پاره ئے وَقف کړو. د غزوۀ تَبُوك په موقع ئے 950 اوښان، پنځوس اسونه او یو زر 1000 اشرفئ پیش کړے، بیا وروسته ئے لس زره اشرفئ نورے پیش کړے. (مِراٰۃُ الْمَنَاجِیح ج۸ ص۳۹۵) د دے نه علاوه چه کله به هم ضرورت شو نو د اسلام د پاره مال خرچ کولو باندے به ئے هیڅ اسره نه کوله.

هُم دغسے د نورو صحابۀ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان او اولیائے کرامو هُم ډیر واقعات دي چه هغوئي به د دِین د پاره خرچ کولو کښے وړاندے وړاندے اوسیدل.

په دے باره د کروړاؤ حَنَفیانو اِمام، حضرتِ سَیِّدُنا اِمامِ اعظم رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه د خپل شاګرد حضرت اِمام ابُو یُوسُف رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه د کفالت واقعه زمونږ د پاره روښانه مثال دے.

راځئ چه په دے باره کښے څه واورو:

## اِمامِ اعظم ورته عِلم او مال دواړه عطا کړل

حضرتِ سَیِّدُنا اِمام اَبُو یُوسُف رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه بخپله فرمائي چه ما د حدیث او فِقه د طالِبِ

عِلم پہ حیثیت پہ کُوفه کښے وخت تیر کړے دے. پہ شروع کښے ما د یو تنګ دسته او غریبے کورنۍ سره تَعَلُّق لرلو، زما والِد صاحِب زه یو ځل د اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ پہ خدمت کښے حاضر کړم، ما هلته سبق وئیل شروع کړل، زما پلار ما ته وئیلي وو چه ځویه! پہ ناسته کښے د اِمامِ اعظم ابوحنیفه رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ طرف ته ښپے اُو نه غزوے ځکه چه دا د بے اَدَبۍ انداز دے.

بیا [څه ورځے پس] زما والِد صاحب ما ته اُووئیل چه بچیه! مونږه غریبانان یُو او مالداران غوږ خوراکونه کوي، مونږه پہ اوچه ډوډۍ ګُزاره کوو، مونږه ډیر بے وسه یُو، د دے خبرو نه پس زما پلار زه د اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ مجلِس ته د تللو نه منع کړم [یعني چه څه کار کوه چه ګُزاره مو ښه شي]، چه کله اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ زما غیر حاضري اولیدله نو د خلقو نه ئے تپوس اوکړو چه یعقُوب ولے نه راځي؟ هغوئي ورته اُووئیل چه هغه خپل پلار منع کړے دے. امام قاضی اَبُو یُوسُف رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ فرمائي چه هلته زما حالت داسے وو چه زه د اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ پہ مجلسونو کښے حاضریدلو د پاره بے تابه ووم.

آخر دا چه یوه ورځ د هغوئي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ مجلس ته ورغلم، هغوئي پہ ډیر شَفقَت باندے زما نه د غیر حاضرۍ پہ باره کښے تپوس اوکړو نو ما ورته د خپلے غریبۍ او د والِد صاحب پہ حُکم د نه راتللو وجه بیان کړه، پہ هغه ورځ مے د هغوئي پہ مجلِس کښے [ټوله ورځ] حدیثونه اوریدل، چه کله کور ته روان شوم نو اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ ما ته اشاره اوکړه چه کښینه، چه ټول خلق لاړل نو هغوئي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ ما ته د دِرهَمو نه ډکه یوه تیلۍ راکړه، او اوئے فرمائیل چه پہ دے ګُزاره کوه، بیا **اللّٰه** مالِك دے، ما چه تیلۍ پرانسته نو پہ هغے کښے سل دِرهَمه وو. بیا چه روانیدلو نو ما ته ئے حُکم اوفرمائیلو چه زما د درس حَلقے

ته راځه، كه دا دِرهَم ختم شو نو بيا به نور بندوبست اوكړو، بس د هغے نه پس بيا ما باقاعِدګئ سره د درس په حلقه كښے حاضريدل شروع كړل.

څه ورځے پس ئے راله يوه بله تيلئ راكړه، دغسے به هغوئي رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه څه ورځے پس زما اِمداد كولو او هيڅ چا ته د دے عِلم نه وو، يوه خاص خبره دا وه چه اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه خو به ما ته مسلسل رقم راكولو خو زما نه ئے كله دا تپوس نه دے كړے چه چرته ئے خرچ كوے؟ او بله دا چه هغوئي به پخپله محسوسوله چه رقم ختميدو والا دے نو ما له به ئے نور رقم راكړلو. نو دغسے ما سبق هُم وئيلو او زما د كور ګُزاره هُم روانه وه. بيا يو وخت راغے چه زما مالي حالت ښه شو.

زه مسلسل د حضرت اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه درس ته حاضريدلم او عِلمي استِفاده مے كوله، او بيا يو وخت راغے چه يو طرف ته اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه دُنيوي طور هُم په مال زما حالت ښه كړو او بل طرف ته ئے په عِلم و فضل كښے مُـمتاز كړم او ما ته د عِلم دروازے بيرته شوے. (مناقب امام اعظم، جز ثانی، ص۲۱۱)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** كيدے شي چه د چا دا خيال وي چه حضرت اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه به د قاضي اِمام اَبُو يُوسُف رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه يو څو مياشتے كفالت [يعني مالي اِمداد] كړے وي، داسے دوه درے كاله هُم نه بلكه اِمام اَبُو يُوسُف رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه فرمائي چه حضرت اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه د لسو كالو پورے زما او زما د كور د كسانو خرچ برداشت كړو.

(مناقب امام اعظم، جز اول، ص۲۵۹ ملخصاً)

په يو بل روايت كښے راځي چه حضرت اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه به چه كله هُم د خپل ځان د پاره يا د خپل كور د كسانو د پاره كپړے يا څه د خوراك څيز اخستلو نو په هُم هغه

همره مقدار به ئے هغه څیز د عُلَماء و مَشائخو د پاره هُم اخستلو. (ایضاً،ص۲۶۱ملخصاً)

## اِمامِ اعظم ته نصیب شوي بَرَکتونه

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د حضرت اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه په دے واقِعه کښے زمونږ د پاره ډیر زیات درس دے. حضرت اِمام قاضي اَبُو یُوسُف رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه ډیر لوئ عالِم، مُجتَهِد، مُفتي او قاضيِ اسلام جوړ شو، بلکه د هغوئي په فیضِ نظر او مؤَثّر تعلیم ډیر غټ غټ عُلَماء او مفتیان او مجتهدین پیدا شو. چه سوچ اوکړئ نو حضرت اِمام قاضي اَبُو یُوسُف ته دا ټول بَرَکتونه او مقام او مرتبه په دے وجه نصیب شوه چه حضرت اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه د هغوئي کفالت هم اوکړو او هغوئي ته ئے تعلیم هُم ورکړو. بیا اِمام اَبُو یُوسُف رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه امام **مُحَمَّد** رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه ته تعلیم ورکړو، حضرت امام **مُحَمَّد** د اِمام شافعي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه اُستاذ دے، حضرت امام شافِعي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه د امام اَحمد بِن حَنبل استاذ دے، حضرت امام اَحمد بِن حَنبل اِمام بُخاري ته تعلیم ورکړو. حضرت اِمام بُخاري رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه ډیر شاګردان عالِـمان کړل، او هُم دغسے دا سلسله تر اوسه پورے راروانه ده او اِنۡ شَآءَاللّٰه د قیامته پورے به جاري اوسي. که سوچ اوکړئ نو دا ټول بَرَکتونه د حضرت اِمامِ اعظم ابُو حنیفه رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه دي او په دے ټول ثواب کښے د هغوئي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه پوره پوره حِصَّه ده ځکه چه هغوئي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه حضرت اِمام اَبُو یُوسُف رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه ته د عِلمِ دِین تعلیم هُم ورکړو او په هغوئي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه باندے ئے خپل مال هُم خرچ کړو.

## د اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه په دِیني طَلَبه باندے د خرچ کولو انداز

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د اعلٰی حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه اِمام

اَحمد رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ دا مبارك عادت وو چه هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ به عِلمِ دِین حاصلولو والؤ طَلَبه باندے ډیر ډیر مال خرچ کولو او په دے به خوشحالیدلو، او هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ په طَلَبه باندے ډیر مهربانه وو، د خوشحالئ په موقع او د اختر په موقع به ئے د هغوئي د پاره نوے نوے جامے جوړولي او قِسماقِسم خوراکونه به ئے پرے کول، د عربو طَلَبه د پاره عربي طعام، روسي طَلَبه د پاره روسي طعام او بنګالي طَلَبه د پاره به ئے بنګالي طعام تیارولو، الغَرَض د کومو طَلَبه به چه کوم طعام خوښ وو د هغوئي د پاره به ئے هُم هغه پخولو او په هغوئي به ئے خوړلو او په دے به ډیر خوشحالیدلو. (سوانح اعلیٰ حضرت، ص۱۴۶ ملخصا)

اَلْحَمْدُلِلّٰه دعوتِ اسلامي هُم د جامعاتُ المَدینه د طَلَبه د پاره د بهترین خوراك اهتمام کوي بلکه د طَلَبه د هر قِسم سهولیاتو خیال ساتي. لِـهذا په دے کارِ خیر کښے هُم دعوتِ اسلامي سره ډیر ډیر تعاون اوکړئ.

## مال کوم ځائے کښے خرچ کول پکار دي

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** په دے واقعه کښے زمونږ د پاره د نصیحت ډیر مَدَني ګُلونه دي، که د چا په عالِـمِ دِین جوړیدو، حافظِ قُرآن جوړیدو کښے زمونږه څه مالي حِصَّه شامله شي نو د دے فائدے هُم ډیرے دي بلکه که دے ته ثوابِ جارِیه اُووائے نو هُم صحیح ده. سوچ اوکړئ! که زمونږ د ورکړي مال په ذریعه یو کس عالِـمِ دِین جوړ شو نو د هغه د عالِمِ جوړیدو ثواب به مونږ ته هُم ملاویږي، بیا هغه چه چا، چا ته عِلمِ دِین ښائي، سبق ورته وائي نو د هغے په ثواب کښے به هُم زمونږه حِصَّه وي، بیا چه د هغه شاګردان نورو ته عِلمِ دین ښائي او دغسے داسلسله به تر قیامته پورے

چليږي نو زمونږ د پاره به د ثوابِ جارِيه يوه داسے سلسله شروع شي چه هغه به تر قيامته پورے چليږي.

## د دعوتِ اسلامي جامِعاتُ الـمدينه او مدارِس الـمدينه

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د **عاشِقانِ رَسُول** دِيني تحريك دعوتِ اسلامي زيرِ اِهتِمام په پاکستان او اوورسيز کښے د اِسلامي ورونړو او اسلامي خويندو په سوونو **جامِعَاتُ الْمدِينه** دي په هغې کښے په زرګاؤ طَلَبه و طالِبات عِلمِ دِين حاصلوي، د نن ورځے پورے **اَلْحَمْدُلِلّٰه 1122 جامِعَاتُ الْمدِينه** قائم شوي دي چه په هغے کښے د طَلَبه و طالِباتو شمير تقريباً 88502 (اته اتيا ذره او502) دے.

سن 2000ء نه 2021ء پورے تقريباً 6809 (شپږ زره او اته سوه نهه) **مَدَني عُلَمائے کرامو درسِ نظامي مُکمل** کړے دے، او تقريباً 9308 (نهه زره او درې سوه اته) **اسلامي خويندو درسِ نظامي** او د **فيضانِ شريعت کورس** پوره کولو سعادت حاصل کړے دے.

**اَلْحَمْدُلِلّٰه!** تر دې وخته 5006 مدارسُ المَدينه قائم شوي دي، په دې کښې د لوستونکو هلکانو او جينکو شمير تقريباً 230552 (دوه لکه ديرش زره پينځه سوه دوه پنځوس) دے. تر اوخه پورے تقريباً 386354 (درې لکه شپږ اتيا زره درې سوه څلور پنځوس) د قُرآنِ کريم حفظ کولو او ناظِرهٔ قُرآن لوستلو سعادت حاصل کړے دے.

د دعوتِ اسلامي د دے اَهم ترينے صرف دوو شعبو **سالانه خرچ اربونه روپۍ** دے، چه د دے د پوره کولو د پاره **عاشِقانِ رَسُول** خپله حِصَّه شاملوي، **اللّٰه** دِ اوکړي چه مونږه هُم په دے عظيم نيك كار كښے حِصَّه شاملولو والا جوړ شو. هر يو دِ د خپل مالي حيثيت

مطابق سوچ اوکړي چه په دے کښے د خپل طرف نه څومره حِصَّه شاملولے شي.

## جامِعَاتُ الْمدِینه او مَدارِسُ الْمَدینه سره د تعاون کولو اَهَمِّیَّت

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** اوس مونږه واوریدل چه زمونږه اَسلافو به د دِین اسلام د پاره خپل مالونه خرچ کول، او بیا خاص طور د دعوتِ اسلامي د **جامِعَةُ الْمدِینه** یعني داسے اِدارے سره تعاون کول چه په هغے کښے د اُمَّت رَهنُما یعني عُلَماء تیاریږي، دا داسے ده لکه دِین مضبوطول.

د **دعوتِ اسلامي** په **جامِعَاتُ الْمدِینه** کښے د فیضانِ عِلمِ دِین عام کولو سره سره **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** د دے طَلَبه په ذریعه لـمونځ نه کوونکو ته د لـمانځه دعوت رسي، د قرآنِ پاك د تعلیم نه ناخبره خلقو په زړونو کښے د قرآنِ پاك مَحبَّت عام کیږي، دا د اُمَّت رَهنُما کله د اِمامَت د مُصَلّے په ذریعه، کله د مِنبَر په ذریعه، کله د تَدرِیس په ذریعه او کله د تصنِیف په میدان کښے د خپل قلم په ذریعه د نیکۍ دعوت عام کولو کښے مصروف دي، داسے اِدارے سره تعان کول په معاشره کښے د دِیني نِظام د ترقۍ او مضبوطیا ضمانت دے. د خپل صدقات، خیرات، زکوٰة او عُشر وغیره په ذریعه د دعوتِ اسلامي د **جامِعَاتُ الْمدِینه** سره ډیر ډیر تعاون اوکړئ.

## دینی و اخلاقي تربیت

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي جامعاتُ المَدینه او مدارسُ المَدینه کښې د لوستونکو طلباء و طالباتو دِیني او اخلاقي تربیت باندې پوره توجه ورکړے کیږي، د دوئي د پاره د پینځه وخته لـمونځ نه علاوه نور نوافلو مثلاً صلوٰةُ التَّوبه، تَهَجُّد او اِشراق و څاښت د

لــمونځونو اهتِمام هم کيږي. په مختلفو مواقعو باندې د بيانونو سلسله هم جاري وي، په هغې کښې کله د مور و پلار ادب و احترام کولو او حُسنِ سلوك کولو ترغيب ورکړے کيږي، کله د دروغو، غِيبَت، چُغلي حسد، تڪبُّر وغيره باطني مرضونو نه نفرت ورکړے کيږي. دغه شان د دې طلباء و طالباتو تنظيمي تربيت باندې هم خاص توجه ورکړے کيږي، چې د تعليم په دوران کښې او د درسِ نظامي فارغيدو نه پس طلبائے کرام، اسلامي وروڼړو او د خپل کور په کسانو کښې د دعوتِ اسلامي د طريقۀ کار مطابق د نيکۍ دعوت خور کړي، او طالبات د نورو اسلامي خويندو او خپل محارمو خپلوانو کښې د نيکۍ د عوت عام کړي.

د تنظيمي او اخلاقي تربيت دا نتيجه ده چې د جامعةُ الْمَدينه طلبائے کرام د مجلس ورکړے شوي جدول مطابق په **مدني قافِلو** کښې سفر کوي، د جامِعاتو په خوا و شا کښے د **دعوتِ اسلامي** 12 ديني کارونو عام کولو ذِمّه داري سنبالوي او اَلْحَمْدُلِلّٰه! د جامعةُ الْمَدينه استاذان او طلباء د اِمامت و خطابت فرائض هم ادا کوي، چې د هغې په وجه ډير جُماتونه آباد دي. ډير استاذان او طلباء ''جامعةُ الْمَدينه و مدرسةُ الْمَدينه آن لائن'' په ذريعه د ټولې دُنيا عاشقانِ رسول ته د انټر نيټ په ذريعه د قُرآنِ کريم تعليم ورکوي او د علمِ دين د نُور نه روښانه کولو کوشش کوي، ډير استاذان او طلباء د دعوتِ اسلامي په مختلفو شعبو کښې خپل دِيني خدمتونو کښې مصروف دي.

دغه شان جامعةُ الْمَدينه (گرلز) اُستاذانې او طالبات (يعنې تعليم ورکوونڪي مدينه اسلامي خويندې او لوستونڪي طالبات) هم د دعوتِ اسلامي په مختلفو شعبو کښې کيدونڪي ديني کارونو کښې حِصَّه اخلي. د اسلامي خويندو عالمي مجلس مُشاورت تحت د اسلامي خويندو 8 ديني کارونو کښې عملي طور شامليږي او د نيکۍ دعوت

خورولو كوشش كوي. اَللّٰهُمَّ زِدْ فَزِدْ ثُمَّ زِدْ يعني اے اللّٰه! [دوئي] زيات كړے، نور ئے زيات كړے او بيا ئے [نور] زيات كړے.(فيضانِ سُنّت، صفحه ۵۸۹،ملتقطاً)

## كه پخپله عالِم نه شئ جوړيدے نو بل كس عالم جوړ كړئ

ياد ساتئ چه! په دے كښے هيڅ شك نشته چه د عالِم جوړيدلو ډير فضائل دي او په دے كښے هُم هيڅ شك نشته چه د حافِظ جوړيدلو هُم ډير فضائل دي، يقيناً په مونږ كښے به ډير داسے كسان وي چه د هغوئي په زړه كښے به د عالم جوړيدلو يا حافِظ جوړيدلو خواهش وي. خو كه په څه وجه مونږ پخپله عالِم يا حافظ جوړ نه شو نو بيا مونږه دا سعادت حاصلولے شو چه د خپل مال په ذريعه څوك عالِم يا حافِظ جوړ كړو. هِمَّت اوكړئ او د دعوتِ اسلامي د **جامِعَاتُ الْمدِينه** او **مَدارِسُ الْمَدينه** د ټولو اخراجاتو د پاره پوره پوره تعاون اوكړئ.

## خود كَفالَت

"مَثَلًا كه **اللّٰه** پاك وَس دركړے وي نو جُمات جوړ كړئ، **جامِعَةُ الْمدِينه** يا **مَدرَسَةُ الْمَدينه** جوړه كړئ او دعوتِ اسلامي ته ئے حواله كړئ." كه دا نه شي كيدے نو د يوے **جامِعَةُ الْمدِينه** يا **مَدرَسَةُ الْمَدينه** ماهانه خرچه په خپله ذمَّه واخلئ يا د يوے مدرسے د بِجلئ، ګيس وغيره بِل په خپله ذمَّه واخلئ يا د يوے **جامِعَةُ الْمدِينه** يا **مَدرَسَةُ الْمَدينه** د مَدَني عَملے (يعني استاذانو او قاري صاحبانو وغيره) تنخواه په خپله ذمَّه واخلئ، يا د هغے سبزيانے، غنم، وړه وغيره، يا نور راشن (مَثَلًا غوړي، وريژے، وچ چائے، شوده وغيره) په خپله ذمَّه واخلئ، په خپل فصل كښے يوه حِصَّه مقرره كړئ چه

دا به د **اللّٰه** پاك د رضا حاصلولو د پاره **جَامِعَةُ الْمدِينه** يا **مَدرَسةُ الْمَدينه** ته وركووم، او دا نِيَّت اوكړئ چه كه په دے كښے ما پخپله څه تعاون كولے شو نو كووم به ئے يا كه زه ئے نه شم كولے نو نورو ته به د دے تعاون كولو ترغيب وركووم.

## د مور و پلار د پاره صَدَقهٔ جارِيه

الغَرَض! په څه نه څه طريقه په دے كارِ خير كښے تعاون كول پكار دي. په دے تعاون كولو كښے د خپل مرحوم مور او پلار د ايصالِ ثواب (يعني هغوئي ته د ثواب بخښلو) نِيَّت هُم كولے شئ، او دا صَدَقهٔ جارِيه هُم ده. كه مونږه د دُنيا نه لاړ شو نو هُم چه تر څو پورے بيا د دِين دا نظام چليږي او په هغے كښے زمونږه حِصَّه شامله وي نو مسلسل به زمونږه په ثواب او نيكو كښے اضافه كيږي.

**اللّٰه** پاك دِ مونږ ته د عمل كولو توفيق را كړي. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د اسلامِك اِى بُك لائبريري تعارف

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي آئي. ټي ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي كيشن: ***Islamic Ebook Library*** (*اسلامک اِی بُک لائبریری*) جاري كړے دے. د دې ايپلي كيشن په ذريعه د مكتبةُ المَدينه نه چاپ شوي كتابونه مفت ډاؤن لوډ كولے شئ. دا ايپلي كيشن په خپل موبائل كښې انسټال كړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب وركړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په آخره کښے د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چه زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چه زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښے زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ ص ۳٤۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِینه مے دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا جنّت کښے مے خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## د ګرځیدلو سنتونه او آداب

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! راځئ چه د امیر اهلسنت حضرت علامه مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د رسالے 163 مدني ګلونه نه د ګرځیدلو سنتونه او آداب واورو:

☆ پیځلَّسمه سیپاره سوره بني اسرائِیل آیت 37 کښے د ربُّ الْعِبَاد عَزَّوَجَلَّ ارشاد دے:

وَلَا تَمْشِ فِي الْاَرْضِ مَرَحًا ۚ اِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْاَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُوْلًا ﴿۳۷﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: او په زمکه په لوئـي سره [یعني په تڪَبُّر] مه ګرځه، بیشکه هیڅ کله به نه زمکه اوشلوے او نه به هیڅ کله په اوچتوالي کښے غرونو ته اورسیږے. ☆ د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِدارے **مَكْتَبَةُ الْمَدِینه** چاپ شوي د 1197 صفحو کتاب "بهارِشریعت" جِلد 3 صفحه 435 کښے فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے:

یو کس دوه څادرے اچولے په لوئيـي سره [یعنی په فخر] روان وو او په تَـکَـبُّر کښے وو، هغه په زمکه کښے خخ کړے شو، هغه به ترقیامته پورے مسلسل ښخیږي. (صحیح مسلم ص1156 حدیث2088) ☆ حضورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به بعضے وخت کښے په روانه کښے د یو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ لاس په خپل لاس مبارك کښے اونیولو. (المعجم الکبیر ج7ص277 حدیث 7132) ☆ رَسُولِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به چه روان وو نو مخے طرف ته به لږ شان تِیټ شوے تلَلو، لکه د لوَړے نه چه راکوزیږي. (الشَّمائل المحمّدیة للترمذی ص87 رقم118) ☆ که څه وجه نه وي نو د لارے په غاړه غاړه په درمیانه رفتارسره ځئ، نه دومره تیز چه خلق ستاسو په تماشه شي چه دا چرته په منډه منډه روان دے! او نه دومره په قلاره چه خلق مو بیمار اوګڼري. ☆ په لاره تللو کښے پریشان نظري (یعني بے حاجته اخوا دیخوا کتل) سُنَّت نه دي، نظر ښکته ساتئ او په وقار [یعني احترام] سره ځئ. ☆ د چا د کور بالکوني [ګیلرئ] یا کړکئ طرف ته بے ضرورته کتل مناسِب نه دي. ☆ په تلَلو یا په پوړو ختلو کوزیدلو کښے د پیزار اواز پیدا کیدل نه دي پکار، زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د پیزار "درب" خوښ نه وو. ☆ که په لاره کښے دوه زنانه ولاړے وي یا روانے وي نو د هغوئي په مینځ کښے مه تیریږئ ځکه چه په حدیثِ پاك کښے د دے منع راغلـي ده. (ابوداؤد ج4ص470 حدیث 5273) ☆ بعضے خلق چه په لار روان وي نو د هغوئي عادت وي چه کوم شے هم مخے له ورځي هغه په لتو وهي، دا قطعاً غیر اخلاقي طریقه ده، په دے کښے د ښپو د زخمي کیدو هم خطره وي، او اخبارونه یا د لیك والا ډبي، پیکټے او د مِنرل واټر خالي بوتلے وغیره په

لتو وهل بے ادبي هم ده.

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه کتابونه (۱) د ۳۱۲ صفحو کتاب ''بهارِشريعت'' حصّه ١٦ او (۲) د ۱۲۰ صفحو کتاب ''سُنَّتیں اور آداب'' هديه کړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښے عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښے لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي: څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندے) دا دُرُود شريف په پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښے د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښے د داخليدو وخت کښے هُم، تر دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښے د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندے کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښے او كه ناست وو نو اودريدو نه مخكښے به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صاوِی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندے د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې دا دُرُود

1... القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

هُم په شریکه اووائیو.

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰى لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ په مینځ کښے کښینولو، دے باندے صَحابَۂ کرام رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتے مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندے دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئے لوَلي.[1] راځئ چې مونړه ئے هُم په شریکه اووائیو.

### ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ اَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسے دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

### ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ

1... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

2... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حدیث: ۳۰

وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دے د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورے نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئے هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسے ده لکه شبِ قدر ئے چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درے ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د خُدائے حَليم وکريم نه سِوا هيڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، الله پاک دے چې د ووه واړو آسمانونو او د عرشِ عظِيم پروردګار دے)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب في کيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵